حیا له ایمان څخه ده

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم له یو سړي څخه واوریدل چې خپل یو ورور ته یې د حیا په اړه نصیحت کاوه، نو ورته یې وفرمایل: « حیا له ایمان څخه ده».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له یو سړي څخه واوریدل چې خپل ورور ته یې نصیحت کاوه تر څو له (زیاتې حیا) یعنې شرم کولو څخه ډډه وکړي! نو - رسول الله صلى الله عليه وسلم - ورته څرګنده کړه چې حیا له ایمان څخه ده، او دا چې پایله یې یوازې خیر دی. او حیا داسې یو صفت دی چې - انسان - ښو کارونو ته اړباسي او له بدو څخه یې منع کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5478